فدامحمد نومیر
۲۰۲۶/۰۲/۲۳

# د اسلام دښمن

څله خوله دې وازه کړې په تخریب ده
کوم وعده در سره کړې بیا رقیب ده

بیهوده د اسمان ستورو لره غاپې
هسکوستورو ته غپا دې څه عجیب ده

د لړم په څیر په هر لور زهر پاشې
ستا د زهرو دوا لاس کې دطبیب ده

ټول وجود دې بغض عناد کینې نیولی
هره ویه ، کلمه دې بې ترتیب ده

لکه مار هسې تاویږې له خپل خښم
دښمنې دې داسلام سره اسیب ده

دابئ (۱) سره دې ناسته او خلوت دی
هر خبره دې د چل او دفریب ده

آبو جهل نه ؤ جاهل کار یې دجهل ؤ
کړه وړه ستا هم آبو جهل لره قریب ده

خدای لپاره د کړې لارې په لار سه
داسلام لاره روښانه په ترتیب ده

دنومیر پند نصیحت په غوږو واوره
دا ا نشأ درته لیکلې یو کاتیب ده

۸ - اکتوبر - ۲۰۲۱
متحده ایالات ، کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولـئ